آصفه خلیل مسعودی

۷ دسمبر ۲۰۰۸

## د اختر لندی

( دوهمه برخه )

زما دا ښنګه اختر ورځ ده
محبوب می لاړ د رقیب دیدن کوینه

******

دا خو اختر دی چی تیریږی
زما ظالم محبوب به څه پروا لرینه

******

د اختر شپه دی یار می نشته
ز په خالی پالنګ کښی څه اختر کومه؟

******

زما او ستا د اختر شپه دی
خوله راته راکړه چی پوره شی ارمانونه

******

جدایی راغله په اختر کښی
زه به دا سری منګولی چا ته شکارومه؟

******

زما د زړه محبوبه راشه
د اختر ورځ دی، نور می مه غمجنه وه تی

******